جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون شکایات انتخاباتی

دافغانستان اسلامی جمهوریت
دانتخاباتو دشکایتونو کمیسیون

ECC

Islamic Republic of Afghanistan
Electoral Complaints Commission

---

**18 جون 2009**

# اعلامیه مطبوعاتی

**د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون: د نوماندانو په نوم لړ کې د لا زیاتو بدلونونو نه تمه**

د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون نن ټولو افغانانو ته یادونه وکړه چې د ټاکل شویو نوماندانو د چیلنج او د نوماندانو په نوم لړ کې د بدلونونو موده نوره پای ته رسیدلې.

ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته په وار وار مراجعه کیږي چې محروم شویو کاندیدانو په هکله په خپله پریکړه کې بدلون راولي.

د ټول ټاکنو دشکایتونو د کمسیون مشر ښاغلی ګرانټ کیین وویل" د هغو کاندیدانو د ردوني په اړه ځوک، چې د دې مقام لپاره د سیالي کولو جوګه نه دي، د هغوی په هکله زموږ په پریکړو کې نور بدلون نه شي راتلای."

د ټول ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون د پریکړو پربنسټ د ځینو نوماندانو د ردوني په اړه کوم چې تیره اونی ترسره شوی، د افغانستان د ټول ټاکنو خپلواک کمیسیون د کاندیدانو نهایي نوم لړ خپور کړ.

د ټول ټاکنو د قانون لاندې، د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ته دنده سپارل شوی څو د ټول ټاکنو څخه د راولاړو شویو سرغړونو په هکله شکایتونه وسپړي.

د ټول ټاکنود شکایتونو کمیسیون به د ټول ټاکنو د ټولي پروسي پر مهال او بیا د پایلو د تصدیق کولو تر لړی پوري شکایتونو ته رسیدګي وکړي.

### ایډیټورانو ته یادښتونه

- د ټاکنو د شکایتونو د اوریدو کمیسیون خپله لومړنی غونډه د اپریل په ۲۶ نېټه جوړه کړه او همدا اوس د کاندیدانو د کاندیداتوری د شرایطو په اړه د اعتراضونو ارزونه کوی.
- د ټول ټاکنو د شکایتونو د اوریدو کمیسیون یوه خپلواکه افغاني موسسه ده .دا به د هیواد په هر ولایت کې سربیره پردې چې په کابل کې مرکزي دفتر لري، یو یو دفتر ولري.
- د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون به د دوو بنسټیزو مسالو مسوولیت ولري :۱ (د نوماندو کاندیدانو په اړه اعتراضونه، ۲ (په ټول ټاکنو کې د سرغړونو او تخلفاتو په اړه شکایتونه
- د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون دندې او صلاحیتونه د ټولټاکنو د قانون د ۵۲ مادې له مخې ټاکل شوی دي .سرغړوني او تخلفات په ۵۳ ماده کې او تعذیرات په ۵۴ ماده کې راغلي.
- د ټول هیواد په کچه ۲۸۰ د ټولټاکنو د شکایتونو د کمیسیون کارکوونکي دي .۱۲ یې نړیوال سلاکاران دي.
- د ټول ټاکنو د شکایتونو کمیسیون نه جنایي محکمه او نه هم د انتقالي عدالت ارګان دی .دا یوازې د ټول ټاکنو د چارو سره چې په هغو کې نوموړی کمیسیون له سرغړونو او تیروتنو سره چې د ټول ټاکنو او د افغانستان په اساسي قوانینو کې تشخیص شوي، سرو کار لري.
- د ټول ټاکنو د شکایتونو د کمیسیون ویب پاڼه به ډیر ژر په دې نښه پر لیکه www.ecc.org.af :